دَ اسلامی میاشتو په حقله یو دعوتی او موضوعاتی سلسله ، دَ ماه ربیع الاول سره متعلقه احکام ،
تفصیلات او دَ عید میلاد النبی ﷺ حقیقت.

# د ربیع الاول میاشت او عید میلاد النبی ﷺ

پښتو


مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درانی صاحب حفظہ اللہ



العلم پبلیکیشنز

# د ربیع الاول

# میاشت او

# عید میلاد النبی صلی اللہ علیہ وسلم

ابو معاویہ مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

العلم پبلیکیشنز محلہ جنگی پشاور

091-2590315

# فهرست مضامین

مقدمه................................................................3
دعیدمیلاد اصل موجد:............................................11
دعیدمیلاد النبی ﷺ تاریخی پس منظر:........................12
په برصغیرپاک وهند کښې دعید میلادالنبی ﷺ ابتداء: ..........................13
عیدمیلادالنبی ﷺ اود غیرون تقلید: ...........................14
په شریعت کښې د دوؤ اخترونو نه زیات نشته:...............20
د باره ربیع الاول چهټی : ........................................22
عیدمیلاد او حکومتی سرپرستی:...................................23
نبی ﷺ د پیدائش او وفات تاریخ:................................24
تحقیق :..............................................................26
دپیدائش تاریخ :....................................................26
دنبی کریم ﷺ وفات کله اوشو؟.....................................27
یوم عرفه ۱۰ه نه ۱۲ ربیع الاول ۱۱ه پورې دتواریخ تقابل :.................28
او ددې خلاصه د نقشې په صورت کښې هم اوګورئ. ............31
د ربیع الاول په ورځ خوراک وغیره تیارول :...........................32
عید میلاد النبی ﷺ او علمائے دیوبند:..............................35
د څو نورو سوالانو جوابونه........................................41
بریلوی اکابر او مولود:............................................43

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# مقدمه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعَالَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ النَّبِیِّیۡنَ وَعَلٰی اٰلِهِ الطَّیِّبِیۡنَ وَاَصۡحَابِهِ الطَّاهِرِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ۔

فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ۔ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ۔

قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُکُمۡ بِالۡاَخۡسَرِیۡنَ اَعۡمَالًا اَلَّذِیۡنَ ضَلَّ سَعۡیُهُمۡ فِی الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا وَهُمۡ یَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ یُحۡسِنُوۡنَ صُنۡعًا۔ [مریم: ۱۰۳، ۱۰۴]

”اے پیغمبرﷺدوی ته اووایه چه زه تاسو ته خبر درکوم دهغه خلقو په باره کښي چه دعمل په لحاظ سره په لوې نقصان کښي دی داهغه خلق دی چه دهغوی کوشش (نیک عمل)ددنیاپه ژوندکښي بربادشو اوهغوی داګنړی چه هغوی ښه کارکوی.“

دالله تعالی دآخری نبی صلی الله علیه وسلم دبعثت په وخت اسلام ناآشناوو،هرطرف ته دکفروشرک سیوری خواره شوې وو، د هرقسمه خرابیانو او خرافاتو دور وو،په داسې ماحول کښي دالله تعالی دآخری نبی صلی الله علیه السلام بعثت اوشو.دالله تعالی د تائید اونصرت او د نبی علیه السلام د ټولو کوششونو په نتیجه کښي دکفر وشرک او خرافاتو تیارۍ ختمې شوې او د اسلام رڼړا خوره شوه کوم چه په لړه موده کښي د زمکې هرحصه منورکړه.خیرالقرون پورې دي پوره دنیالره منوره کړه،خو ددې نه روستو راتلونکو ددې ناقدری اوکړه اوهغوی هم چه داسې چه د اسلام په نوم باندې اسلاقی اقدارو لره پامال کړل،داسلامی عقائدو په نوم باندې په کفروشرک باندې مبنی عقائد وافکارو لره په ایمان کښي داخل کړې شو. دسنت په ځاې د مستحباتو

او حسناتو په نوم باندې بدعات رائج کړې شو،د ذکر په نوم باندې د ګډا ګانو محفلونه ګرم کړې شو،د حب رسول الله صلی الله علیه وسلم په نوم باندې د غلو ښکارشول،درسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو او دنبی علیه السلام مذاق اوچت کړې شو.غرض داچه اسلام او اسلامی احکامو لره دومره قدرې مسخ کړې شو چه اسلام بیا اجنبی(ناآشنا)شو. دغه دالله د رسول صلی الله علیه وسلم پیشن ګویئ صحیح ثابت شوې چه :

بَدَاَ الْاِسْلَامُ غَرِيْبًا وَّسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَاَ [مشکوة]

''اسلام چه کله راغلو نو ناآشنا وو او بیابه ناآشناشی.''

اسلام که بیا اجنبی شو نو ددې فیوض اوبرکات به هم اوچت شی او دالله تعالی د غیض وغضب باران به اووریږی،هرطرفته به فساد خورشی،او نن داسلام نوم اخستونکی امت حال دټولو نه زیات بدتر دې.په داسې حالاتو کښې ضرورت ددې خبرې دې چه داسلام او اسلامی احکامو اصلی شکل کښې د ژوندکولو کوشش اوکړې شی،دامت په حاملینِ کتاب باندې دالله تعالی دطرف نه دا ذمه داری اوچولې شوې ده دا اهمه ذمه داری ده.

بهرحال دالله تعالی نبی صلی الله علیه وسلم کفروشرک لره ختمولو سره توحیدخور کړو،دبدعاتو اوخرافاتو په ځاې ئې خپل مبارک سنتو لره رائج کړل،خو افسوس صدافسوس! چه دخیرالقرون نه پس نسلونو اسلامی اقدارولره دخپو لاندو کولو سره رسم و رواج او بدعات شروع کړل اوهغې لره ئې اسلام اوګڼړلو.

هسې خو داسې قسم بدعات او رسومات ډیر رائج دی خو په دې کرښو کښې زمونږ موضوع یو رسم دې چه د اوږدې مودې نه رائج

دبدعت په زمره کښي داخل دي کوم لره چه د عیدمیلاد النبی صلی الله علیه وسلم په نوم سره موسوم کولې شی او دجشن په طور باندې دهغې دمناوهلو دپاره د ربیع الاول دولسم تاریخ مقرردې. دې تاریخ لره دالله تعالی دنبی صلی الله علیه وسلم د پیدائش ورځ ګرځول او خودساخته اختر په طور باندې خوشحالی مناوهلی شی اوپه برصغیرکښي خو ددې څه زیاته غلغله ده. عوام خو پرېږده چه خواص هم او د وخت حکومت هم دهغوی سرپرستی کوی اوپه دې ورځ باندې سرکاری عامه چهټی وی په دکانونو،کورونو،مسجدونو،کوڅو او سړکونو باندې دبجلۍ جائزوناجائزکنکشن په ذریعه سره رونق کولې شی، دغوایانو ګاډی، ټانګې،رکشې،ټرکونه او ګاډی وغیرو لره ښه ډول کولو سره باجې،ګډا او سندرو سره دشیطان رونړه جوړولې شی، د عشق رسول صلی الله علیه وسلم شرکیه نعرې،قوالی او میلادونو کولو په شان دغیرشرعی کارونو او د اخلاقی پستئ مظاهره کولو سره جلوسونه راوځی. ددې نه علاوه سرکاری ذرائع ابلاغ دبې پرده ښځو محفلونه د میلاد کوی،داخباراتو خصوصی ایډیشن شائع کولې شی په کوم کښي چه په ولادت اومیلاد باندې مضامین وی او دې جشن عیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم لره په پوره طریقې سره دمناوهلو ترغیب ورکولې شی. په ولادت او سیرت باندې چهاپ شوې مضامینوکښي په کثرت سره موضوعی روایات وی. ښارپه ښار،کلی په کلی،کوڅه په کوڅه د میلادالنبیؐ په نوم باندې دجلسو جلوسونو اهتمام کولې شی په کوم کښي چه واعظان موضوعی روایات او خودساخته واقعات بیانوی او دنبی علیه السلام په تعریف اوتوصیف کښي دغلو په لار سره دشرکیاتو ارتکاب کولې شی. همدا

وجه ده چه الله تعالی په قرآن مجيدکښي اهل کتابو لره مخاطب کولو سره دغلو نه دځان ساتلو حکم ورکړې دې.

قُلۡ يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَا تَغۡلُوۡا فِیۡ دِيۡنِكُمۡ غَيۡرَ الۡحَقِّ [مائده: ۷۷]

"اووايه چه اې اهل کتابو! په خپل دين کښي ناحقه مبالغه (دحدنه تجاوز) مه کوئ."

غرض دا چه يوه هنګامه مستی خوريزی اود ظلم دادې چه ددې بنيادی وجه حب رسول صلی الله عليه وسلم لره ګرځولې شی ګوياچه دهغوی په نزدپه شيطانی انداز کښي دنبی عليه السلام د پيدائش ورځ نمانځل هم حب رسول صلی الله عليه وسلم دې،هرکله چه قرآن پاک کښي دالله تعالی او د رسول صلی الله عليه وسلم دمحبت معياراطاعت رسول صلی الله عليه وسلم لره ګرځولې شوې دې څنګه چه ارشاد دې:

قُلۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ يُحۡبِبۡكُمُ اللّٰهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ۔

[آل عمران:۳۱]

"اې نبی! اووايه چه کچرې ستاسو دالله سره محبت دې نوزما تابعداری اوکړې.الله تعالی به هم تاسوسره محبت اوکړی او ستاسوګناهونه به معاف کړی. الله تعالی لوې معاف کونکې او رحم کونکې دې."

ددې آيت تفسيرکولو سره امام عبدالله بن احمدالنسفی رحمه الله ليکی:

فَمَنِ ادَّعٰی مُحَبَّتَهٗ وَخَلَفَ سُنَّةَ رَسُوۡلِهٖ فَهُوَ كَذَّابٌ وَكِتَابُ اللّٰهِ يُكَذِّبُهٗ

[ تفسير مدارک جلد ا ص ۱۷]

"کوم سړي چه دالله تعالی سره دمحبت دعوی کوی او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم دسنتو مخالفت کوی نوهغه سړي دروغژن دي او دالله کتاب هم هغه ته دروغژن وائی."

اوس داکتل دی چه ځان ته امت مسلمه ویونکی دا عظیم اکثریت چه کومې ورځې ته دومره قدرې اهمیت ورکوی د قرآن مجید او احادیث رسول صلی الله علیه وسلم په رو سره ددې څه حقیقت دې او دصحابه کرامورضی الله عنهم په دې معامله کښې څه طرزعمل دې.

د صحابه کرام نه زیات دنبی صلی الله علیه وسلم سره محبت کونکی څوک کیدې شی؟

الله تعالی د نبی صلی الله علیه وسلم سره د هغوی محبت او ځان قربانولو تعریف کولو سره دهغوی ایمان لره معیارګرځولې دې:

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا [البقرۃ:۱۳۷]

"بس کچرې دا خلق هم داسې ایمان راوړی څنګه چه تاسو (صحابه کرامو) ایمان راوړې دې،نوهدایت موندونکی به شی."

خو ددې نه مخکښې معلوم کیدل پکار دی چه ددین بنیاد قرآن مجید او سنت رسول صلی الله علیه وسلم باندې دې،څه معامله هم وی نو هغې لره صرف او صرف په دې باندې تلل پکار دی. دکومې معاملې سند دقرآن وسنت صحابه کرام،سلف صالحینو او آئمه مجتهدینو سره ملاویږی نوپه سرسترګو باندې،په بل صورت سره خواه څومره هم ښه په نظرراشی دهغې څه اهمیت اوحیثیت نشته. داخبره چرته چه په قرآن کښې الله تعالی په ګڼرو ځایونوکښې واضحه فرمائیلې ده هغه نبی علیه السلام هم په احادیثو کښې په صراحت سره

بیان کړې ده. دارنګه ارشادباری تعالی دې:

ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ۔ [الجاثیۃ:۱۸]

"بیامونږ یو شریعت په تاسو باندې قائم کړو،تاسو دهغې اتباع اوکړئ،اوڅوک چه علم نه لری دهغوی د خواهشاتو تابعداری مه کوئ."

اِتَّبِعُوْا مَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَاۗءَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ۔

[الاعراف:۳]

"کوم چه ستاسو درب دطرف نه په تاسو باندې نازل کړې شوې دی دهغې تابعداری اوکړې او دهغې نه علاوه د نورو ملګرو تابعدارې مه کوئ تاسو خلق نصیحت کم قبلوې."

وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۤ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ۔

[الحشر:۷]

"رسول صلی اللہ علیه الله وسلم چه تاسوته څه درکوی،هغه واخلئ اودکوم څیزنه چه تاسو منع کوی دهغې نه منع شئ. داللہ نه اویریږئ. بیشکه الله سخت عذاب ورکونکې دې."

ددې آیاتونو او ارشاداتو دمطالعې نه داخبره ښه ښکاره کیږی چه دین صرف هغه دې کوم چه خالق،مالک او مدبر کائنات نازل کړې دې داللہ آخری نبی صلی الله علیه وسلم په درویشت کاله نبوی دورکښې ددې عملی تفسیرکړې دې،آخر داچه دا نعمت(اسلام) پوره شو:

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا۔ [المائدۃ:۳]

"نن ما ستاسودپاره دین لره مکمل کړو اوپه تاسو باندې مې خپل نعمت پوره کړو اوستاسو دپاره ما دین اسلام خوښ کړو."

نبی صلی اللہ علیه وسلم دحجة الوداع په موقعه باندې الله لره ګواه جوړولو سره په خلقو باندې واضحه کړه چه ما ددې دین یوه یوه خبره بغیردځه کمی زیاتی نه خلقو ته اورسوله.

ددې دین اتمام او اکمال نه پس چه کومه هم نوې عقیده او نظریه جوړه کړې شوه، یا دطاعت او عبادت چه کوم هم نوې انداز ایجاد کولې شی،او چه کوم هم رسم ورواج جاری کولې شی هغه ټول په دین کښې داضافه کولو په وجه سره مردود دی.

د دین مکمل کیدو نه پس ټول احداث(نوې څیزونو) لره د الله نبی صلی اللہ علیه وسلم بدعت ګرځولې دې او هربدعت ګمراهی اوضلالت دې اوهره ګمراهی وضلالت دجنهم ذریعه ده څنګه چه ارشاد نبوی صلی اللہ علیه وسلم دې:

مَنْ اَحْدَثَ فِیْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَیْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ۔ [بخاری و مسلم]

"چا چه په دین کښې څه داسې کار اوکړو چه د هغې بنیاد په شریعت کښې نه وی نوهغه کارمردود دې."

مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَیْسَ عَلَیْهِ اَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ [مسلم]

"چاچه په دین کښې څه داسې کار اوکړو دکوم چه حکم نه دې کړې شوې نوهغه کار مردود دې."

او مزیدئې اوفرمائیل :

فَاِنَّ خَیْرَ الْحَدِیْثِ کِتَابُ اللهِ وَخَیْرَ الْهَدْیِ هَدْیُ مُحَمَّدٍ صلی الله علیه وسلم وَشَرَّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَکُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٍ وَکُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ۔ [مسلم]

"بهترینه خبره دالله تعالی کتاب دې او بهترین هدایت د محمدصلی اللہ علیه وسلم هدایت دې او بد ترین کار په دین کښې نوې

خبره ایجادکول دی،په دین کښي هره نوې خبره بدعت دې او هربدعت ګمراهی ده."

اوترمذی په دې الفاظوکښي اضافه کړې ده:

كُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ۔ "اوهرګمراهی جهنم طرفته دیکه ورکونکی ده."

دارنګه دین هغه دې چه په قرآن کښي موجود او دسنت نه ثابت دې. اوس کتل داپکار دی چه آیاعیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم په نوم سره موسوم د دې تهوار او جشن ذکر په قرآن وحدیث کښي موجود دې؟ او دصحابه کرامو دطرزعمل نه ددې تصدیق کیږی یانه؟ دقرآن او احادیث صحیحو په غور سره دمطالعې نه معلومیږی چه په دې کښي ددې جواز خو څه ذکر قدرې نشته او پاتې شو دصحابه کرامو عمل نوپه هغې کښي هم ددې څه قسم ځاې نه شی ملاویدې. دلته دې دا هم یاد اوساتلې شی چه دصحابه کرامو نه زیات په دین باندې پوهیدونکی او د الله دنبی صلی الله علیه د پیدائش ورځ نمانځل دمحبت انداز وې نو دهولو نه مخکښي به ددې حرص صحابه کرامو ته وو. دنبی صلی الله علیه وسلم صحابه کرام ،تابعین وتبع تابعین دورپه خیرالقرون کښي شامل دې.

نبی علیه السلام فرمائیلې دی:

خَيْرُ الْقُرُوْنِ قَرْنِيْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ

"بهترین خلق هغه دی چه زما په زمانه کښي دی(صحابه کرام) بیا ددوی نه پس(تابعین) اوبیاددوی نه پس (تبع تابعین)"۔

په دې دورونو کښې ددې دریم اختر،عیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم څه نوم ونشان نه ملاویږی،دغه شان دفقهی مذهب امامان خصوصًاامام ابوحنیفه،امام مالک،امام شافعی،امام احمد دور که اوکتلې شی نوپه هغې کښې به هم داسې قسمه خبرې ملاؤ نه شی او نه دې امامانو کښې چا ددې مناوهلو حکم کړې دې.

دغه مفسرین مثلاً ابن کثیر،امام رازی وابن جریر، قرطبّی، روح المعانی، زمخشری،خازن،مدارک زادالمسیر، جلال الدین رحمهم الله تفسیرونه دعیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم دذکر نه خالی دی. د محدثینوامام بخاری،امام مسلم،امام ترمذی،امام نسائی، امام ابوداؤد، امام ابن ماجه،امام احمد،امام ملک رحمهم الله وغیره کتابونه ددې عنوان نه خالی په نظر راځی. ددې نه علاوه د اولیاؤ الله فهرست شیخ عبدالقادرجیلانی،بایزیدبسطامی،شیخ جنیدبغدادی، مجدد الف ثانی وغیره ددې ټولو حضراتو ژوند دمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم دجلوسونو نه خالی په نظر راځی.ددې ټولو نه داکارثابت نه دې. بیاهم داخلق په ډیر جوش وخروش او بې پناه عقیدت واحترام سره مناوهی.

## د عیدمیلاد اصل موجد:

د عیدمیلاد اصل موجد خو دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ترۀ ابولهب دې. کله چه دهغه وینځې ثوبیه هغه ته د نبی صلی الله علیه وسلم د پیدائش مبارک زیرې واورولو نو په طور دخوشحالئ ئې هغه وینځه آزاده کړه.ګویا چه دنبی صلی الله علیه وسلم میلاد(پیدائش) باندې اول ځل اخترمناوهلو والا ابولهب دې.خوکله چه هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پیدائش مقصدیعنی دنبی علیه السلام سیرت لره

خپل نه کړو نو هغه مردود شو او دنبی صلی الله علیه وسلم په پیدائش باندې خوشحالی نمانځل دهغه سره څه پکار رانغله. بلکه الله تعالی دهغه په باره کښې اوفرمائیل :

تَبَّتۡ یَدَاۤ اَبِیۡ لَہَبٍ وَّتَبَّ [سورة اللهب]

"د ابولهب لاسونه دې مات شی او هغه دې هلاک وی."

کوم خلق چه نن عیدمیلاد مناوهی هغه په اصل کښې د ابولهب تابعدار جوړیږی. ۔

که عیدمیلاد مناوهل سبب دنجات وې نو نن به ابولهب په هغه خلقو کښې سرفهرست وو. حالانکه نجات اوخلاصې خو دنبی صلی الله علیه وسلم په تابعدارئ کښې دې نه چه دخپل طرف نه ایجادات او خرافاتوکښې.

## د عیدمیلاد النبی ﷺ تاریخی پس منظر:

ددین ماخذ قرآن وسنت او دصحابه کرامو،تابعین،تبع تابعینو او مجتهدینو دورونو کښې نه وو موجود دا څیز زمونږ په دور کښې دکوم ځاې نه راپیدا شو اوڅنګه راپیداشو؟ ددې سوال جواب دومره مشکل نه دې،په لږ شان لټون اوتلاش سره معلومیدلې شی چه دا عظیم بدعت په اوومه صدئ هجرئ کښې شروع شوه. ددې ایجاد سهرا د اربل د باچا الملک المظفر ابوسعید بن حسن سبکتګین بن محمدکوکری المتوفی ۶۳۰ھ په سرباندې ده. دې باچادسیاسی مفاداتو په خاطر دعوامو زړونه ځان ته مائل کولو اوخوشحالولو سره هغوی لره ددې په ذریعه سره مشغول کولو سره دحکومت کولو په خاطر ددې میلاد ایجاد کړې دې او هرکال په لکهونو روپئ به په دې بدعت باندې خرچ کیدې.

علامه ذهبي او ابن کثیر لیکلي دی چه هغه باچا دولس کاله دمیلاد په محفل باندې به درې لکهه روپې خرچ کولې(قطع الوتین:۲۳)د اربل دباچا دخوشحالولو په خاطر دنیاپرست او بې دین او کذاب ملا عمربن محمدالحسن بن علی دمیلاد النبی صلی الله علیه وسلم په شان بدعت د جواز دپاره فتوی او مواد اورسول. په جواز کښې ئې یوکتاب اولیکلو او د باچا په دربارکښې ئې پیش کړو په کوم چه باچاهغه ته ډیر انعام ورکړو. ددې په باره کښې حافظ ابن کثیررحمه الله لیکی چه هغه ملا به ددین د امامانواو د مشرانو علماؤ په شان کښې ډیره ګستاخی کوله. ګنده ژبې والا،بې وقوف او متکبره وو.ددین په کارکښې ډیرسست او بې پروا وو. [لسان المیزان بحواله قطع الوتین و حقیقت میلاد]

د اربل باچا د دې میلاد ښه تشهیر اوکړو او په ډیر دهوم دهام سره ئې اومناوهلو.دغه شان دا دواړه ددې موجد ګرځولې شی. د اربل باچا ددې په تشهیرکښې ښه ډیره حصه اخستې وه په دې وجه اکثرمؤرخینو هغه لره ددې موجد ګرځولې دې. مؤرخینو بیان کړې دې چه دا دواړه بې دینه اوبدقماشه او بیهوده سړې وو، ددین سره ددوی څه تعلق نه وو. [توضیح المرام، راه سنت مولانا صفدر صاحب،ابن خلکان اور دیگر کتب تاریخ]

## په برصغیرپاک وهند کښې دعید میلادالنبیﷺ ابتدا:

په متحده هندوستان کښې دټولو نه مخکښې دعیدمیلاد تذکره په ۹۰۴ء کښې ملاویږی چه دریاست ټونک نواب صاحب په اهتمام سره دهغه په محل کښې په ډیر دهوم دهام سره به مناوهلې کیدو او اووه ورځو پورې به کچهرئ بندې وې او د محل په یوه کمره کښې به څلورستنې د چاندئ اوپه هغې باندې د ګلونوچهت او دګلونو دیوال

جوړیدو او د رڼړا دپاره به لس زره شپږسوه واړه لالټینونه، اګربتۍ لوګی کولو دپاره د سرو زرو ګلدستې او په هغې کښې به اګربتۍ لوګی کولې شوې، او شمعدان(په کوم کښي چه شمعه ایخودلې شی) به دسرو او سپینو زرو جوړشوې وو. اووه ورځې به نواب صاحب خپل تصنیف کرده کتاب مولود لره دشپې نهه بجو نه ترسحر دوه یا څلوربجو پورې لوستلو شپږ اووه زره سړی به راجمع کیدل هغه ټولو ته به عطر ملاویدل،دګلونو هار به ورته په غاړه کولې شو ګلابونه به نوستلې کیدل،هرکس ته به لس لس لډوان ملاویدل،مولود اوریدو سره به ئې نعرې وهلې او د پیدائش رسول صلی الله علیه وسلم به د ورځې څلوربجې د سلو توپو سلامی کیده،قیدیان به پریخودلې شو د چاندۍ صراحیانې او او دچاندۍ ورقول والا پان به په ټولو تقسیم کیدو.

[عید میلاد النبی اور اس کی شرعی حیثیت: ۴۴، از علامہ نیلوی]

## عیدمیلادالنبیﷺ او د غیرو تقلید:

عیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم لره ایجاد کولو نه پس په عوامی سطح باندې دې لره دمحلو نه بهر کوڅو او بازارونو ته چا په راخکلو سره راوړلو او د دې اصل سبب څه جوړشو؟

په دې سلسله کښي د"تهذیب نسواں" ایډیټر سید ممتاز علی تحریک شروع کړو هغه لیکی چه :

"څه موده اوشوه چه یوځل زه د یو دوست سره د "کرسمس"په شپه میلمه شوم. په دې شپه کښي دهغوی د عبادت جوش وخروش او په بله ورځ د دې تقریب د خوشحالۍ چه کوم سامان او اهتمام اولیدو زه په دې باندې حیران پاتې شو او په دې خیال باندې په زړه زړه کښي

ډیر پښیمانه او اوشرمیدم چه ددې په مقابله کښې زمونږ د میلاد مجلسونه هیڅ قدرې هم نه وی." [دیباچہ سبیل الرشاد]

بیایوځاې لیکی :

"په دې کښې شک نشته چه اوّل د میلاد نبوی تحریک د عیسائیانو د لوې ورځې په ذکر سره شروع شو." [ص:٦٥]

بیالیکی چه :

"ما په لاهورکښې اولیدل چه دشالامار باغ د میلې د تیارئ دپاره خلق میاشت مخکښې ښکلې جوړې تیاروی او په دغه ورځ ئې اغوندی او ښه ښه خوراکونه خوری اوپه خلقو ئې خوړَوی اوښه خوشحالئ مناوهی." [ص٧٥]

د ٧ فروری١٩١٤ء په تهذیب کښې جناب حبیب صاحب یومضمون شائع شو چه داسې شروع شو:

"د ټولو مهذبو ملکونو دا دستور دې چه هغوی د لوې سړی یادګار قائموی. د چا په نوم سره مدرسه جوړوی دچابت قائمولې شی، د چا په نوم شفاخانه جوړولې یا باغ لګولې شی.دا خو د دنیا والو ذکر دې. اوس د دین والو حال واورې. بنی اسرائیل ترننه پورې په هغه ورځ خوشحالئ مناوهی او اختر کوی په کومه ورځ چه هغوی ته دحضرت موسی علیه السلام په لاس باندې دفرعون نه خلاصې ورکړې شوې وو. هنودسری رام چندر جی لنکا لره فتح کولو سره او خپله ښځه راخلاصول او بیا په خپل تخت باندې کیناستلو په خوشحالئ کښې هر کال د دسهرې اختر مناوهی. عیسائیان د عشائې ربانی په نوم سره د هغې ورځې یادګار قائموی په کومه ورځ چه د دنیا نه رخصت کیدو

سره اول حضرت عیسیٰ علیه السلام خپل شاګردانو ته روټۍ اوبه ورکړل دګناه نه ئې پاک کړل، په سکهانو کښې په محبت، ادب او شان وشوکت سره د بابا ګورو نانک دپیدائش یادګارمناوهلې شی دهغې مثال دهغوی په نورو خوشحالو کښې په مشکل سره ملاویږی.‘‘[ص:۸۷]

بیادعباسی بیګم صاحبې په مضمون کښې لیکی چه :’’ د هرقوم او هرمذهب وملت په خلقو باندې غور اوکړۍ هغوی د خپل مذهبی پیشوایانو یادګار سره په جلسوکښې څومره قدرې دقومی مسرت اظهار کوی.عیسائی قومونو ته اوګورۍ چه دحضرت عیسی علیه السلام د پیدائش په ورځ څومره عزت او عظمت دنیا ته ورښائی او څو څو میاشتې دهغې تیارۍ شروع کوی. بیا د خپل ملک هندوانو رونړو او خویندو ته اوګورۍ چه هغوی دخپل کرشن مهاراج دپیدائش په ورځ کوم ته چه هغوی جنم اشمی وائی،څومره قدرې مقدس ومتبرک ګڼړی اوپه هغه ورځ باندې عبادت صدقات،خیرات کوی. [ص:۸۴]

بیا د هندوانو فرقه هرهموسماج د طرف نه د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم دکلیزی مناوهلو حال بیانولو سره لیکی: ’’په مندرکښې هرکال د راجه موهن رائې مرحوم دکلیزی جلسه په ډیر دهوم دهام سره کیږی. د څلورو پنځو کالو ذکر دې چه په لاهور کښې د دې کلیزې په جلسه کښې شامل وم چه د راجه رام موهن رائې په بابت په جلسه کښې تقریر اوکړم. ماپه خوشحالۍ سره هغه فرمائش لره منظور کړو خو په دې شرط چه هغوی به خپل مندرکښې د ربیع الاول په مقرره تاریخ باندې د رسول خدا صلی الله علیه وسلم کلیزې لره هم مناوهی. هغه خلقو زما دې درخواست لره په ډیره مهربانۍ سره قبول کړو. زه د

راج رام موهن رائې په کلیزه کښې شامل شوم او په سوؤنو مسلمانان مې هم بوتلل. او دې بزرګ چه د وحدانیت په اشاعت کښې کوم بې شماره خدمتونه کړې دی دهغې مې بې حده تعریف اوکړو او ومې وئیل چه بیشک ټول ملک له دهغه دخدمتونو په زړه سره شکرګزارکیدل پکاردی.''

څو ورځې پس د ربیع الاول میاشت هم راورسیده او مندر منتظمه کمیټۍ دخپلې وعدې مطابق د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم د سالګرې (کلیزې) اعلان اوکړو. هغه جلسه په حقیقیت کښې دکتوقابله وه. ټول حال د سرو نه خُلې خُلې ته راختلې وو(یعنی ډک وو) د قدم ایخودو ځاې نه وو. دپیغمبرخدا صلی الله علیه وسلم په سالګره باندې ټولو برهمنو خلقو په خوشحالۍ کښې دګلونه هارونه اچولې وو. مونږ خلقو هم هارونه واچول.

بیاپه دې جلسه کښې څه تقریر دحضورصلی الله علیه وسلم په باره کښې او څه دحضرت عمررضی الله عنه د ایمان روارلو په باره کښې معمولی غوندې سیدممتازعلی صاحب اوکړو، ددې نه پس: ''په برهمنو نیکه دله مشرانو کښې بابوابناش چندموزمدار پاسیدو او دحضرت عمررضی الله عنه د ایمان راوړلو قصه ئې دوباره په انګریزۍ کښې په انتهائی مؤثرطور انګریزی خوان هندوانو ځوانانو ته واوروله. بابوصاحب ممدوح د رسول مقبول دمحبت په جوش کښې بالکل بې حوده معلومیدو او دهغه دخلې نه یویو لفظ دتاثیرنه ډک راوتلو او دحاضرینو په زړه کښې کیناستلوپه بابو صاحب ممدوح باندې د بې هوشۍ داعالم وو چه دسترګو نه ئې اوښکې نه اودریدې،او دهغه ټوله

ګیره په اوښکو سره لونده شوې وه او ټوله مجمع په حیرانتیاکښي وه.''
سیدممتازعلی لیکی چه :
''دغه شان نیک دله شکرګزاربرهمنو خلقو دحبیب خدا رسول مقبول صلی الله علیه وسلم سالګره اونمانځله.''
بیالیکی چه :
''ما د دې جلسې ذکر خپلې مرحومې ته اوکړو. په هغې دومره قدرې اثر اوشو چه هغه ددې جلسې په شکرګزارئ کښې به همیشه ددې مندر د زنانو په مجلسونوکښي شریک کیدله او اکثر دبرهمنو جینکئ به هم دهغې سره دملاویدو دپاره کور ته راتلې.'' [ص:۲۲،۲۳]
دارنګه سیدصاحب دخپل کتاب په دیباچه کښي لیکی:
''بیا احمدی(قادیانیانو) اختلاف کولو سره د خپلې یوې نیمې خختې مسجد جدا جوړ کړو یعنی هغوی به د عیدمیلاد د نوم په ځاې یوم النبی په نوم سره یو تقریب مناوهلو.''
یا د دې وی چه د مرزا قادیانی ځوی مرزا بشیرالدین محمود احمد ۱۹۲۷ء کښي د دې تقریب په شان شروع کړو.
سیدصاحب د عیسائیانو د اختر حال په ډیر آرمان سره بیان کړې دې. په ډیر زور وشور سره ټلئ وهل،بیاپه خوش آوازئ او خوږې نغمې سره،باجې،بینډ د عیسائیانو کور په کور ګرځیدل د عیسائیانو سړو او ښځو لمبل (ځان پاکول) او د فخر لباس اغوستل ګرجو ته تلل، ماشومانوته ښه اوښکلې لباس اغوستل دکور،دکان،ښار اوکوڅو او بازارونو ډول کول دعیسائیانو کرسمس کیک قسماقسم مټهیانې،د خوشحالئ جلسې دسیدصاحب دپاره مشغل راه جوړشو. هغه فرمائی :

مسلمانان که عیدمیلاد لره دکرسمس دتکلف واهتمام سره دمناوهلو قدرت نه لری نوپه دې موقع باندې کم نه کم خو دومره دې اوکړی چه دمابښام په وخت چه صباله اختر وی دکلي په څلور واړو طرفونو کښې داسې ګولۍ دې اوچلوی ښنګه چه د اختر میاشت لیدو سره چلوی." [دیباچہ]

اختر په موقعه باندې چه کومې طریقې د خوشحالۍ او سرور د اظهارپه عام طورباندې اختیار کولې شی،هغه به په دې اخترباندې هم اختیارولې شی. په دې کښې دحدیث یافقه په رُو سره د نوک نه څوک ویستل فضول دی. [ص۴۵]

او دا ختر د ورځې په شان مکلّف لباس اومکلّف خوراکونو سره د خوشحالۍ اظهار اوکړۍ. [ص:۶۱]

میلاد پاک دې د اخترونو نه زیات په خوشحالۍ سره اونمانځلې شی.....چه په کوم سره په دهوم دهام سره میلې وی. [ص:۴۱]

دمونځ نه پس دماشومانو په غاړو کښې دې دګلونو هار واچولې شی او دتکلف نه ډکه ناشته دې اوخوړلې شی په کوم کښې چه په پیو کښې خوشتې شوې چوهارې ضروری وی. چه څوک وس لری نو قربانی دی اوکړی.... ملاقاتیانو کره دې ښه ښه متهیان او میوې د تحفې په طور باندې لیږل پکاردی.دارنګه مبارک باد د عیدمیلاد کارډ جوړول اویوبل ته لیږل پکاردی. [ص:۴۸]

ددې نه پس سیدصاحب لیکلې دی چه :

"دټولو نه مخکښې اخترپه ۲۹مارچ۱۹۱۰ء باندې اونمانځلې شو."
[ص:۱۱۷]

یعنی دهغه کوشش زورآور ثابت شو.

[عیدمیلادالنبی اوراس کی شرعی حیثیت ازعلامہ نیلوی]

په پاسنو کربنو کښي تاسو اوکتل چه څنګه غیر قومونو مثلاً عیسائیان،هندوان،سکهان،برهمن سماجیان او دقادیانانو تقلیدکولو سره د عیدمیلادالنبی جشن وجود کښي راوستلې شو. الله تعالې دې د داسې موجدینو دباطل خیالاتو نه مونږ محفوظ ومامون اوساتی اوپه کتاب وسنت باندې دې دعمل کولو توفیق راکړی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره دمحبت اصل نښه ده.

**په شریعت کښي دوه اخترونو نه زیات نشته:**

الله تعالی او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم دمسلمانانو دپاره دوه اخترونه مقررکړې وو: یو عیدالفطر(وړوکی اختر) او دویم عیدالاضحی(غټ اختر).د عیدمیلادالنبی په نوم سره دا دریم دبنده ایجاد کیدو په وجه سره قابل د رد او مردود دې خواه ددې مقصد څومره هم نیک ولې نه وی.

دالله تعالی د نبی صلی الله علیه وسلم دخودلې شوی دوؤ اخترونو سره دا دریم اخترایجاد کړې شوې دې. دهغوی په نظر کښي ددې خودساخته اهمیت اندازه ددې شعرنه لګولې شی چه په دغه ورځ ځاې په ځاې په بنیرزباندې لیکلې په نظر راځی. ؎

*نثار تیری چہل پہل پر ہزاروں عیدیں اے ربیع الاول*

*سوائے ابلیس کے جہاں میں سبھی تو خوشیاں منا رہے ہیں*

حالانکه ابلیس خو هغوی ته کتو سره به دټولو نه زیات خوشحاله وی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره دمحبت دعوی

کونکی دهغه په سنت باندې عمل کولو په ځاې زما په طریقه باندې روان دی.

ددې دریم اختر د مناوهلو والو طرزعمل د اهل کتابو او مشرکین سره ملاویږی.هغوی هم دالله او دهغه درسولانو د تابعدارئ په ځاې باندې دهغوی یادګارونولره د عقیدت اومحبت ،عبادت اوبندګئ تعلق قائمولو او داهم دقرآن وسنت د پیروئ په ځاې دهغوی په شان هرکال دنبی صلی الله علیه وسلم د پیدائش ورځ دیادګارپه طورباندې مناوهی حالانکه اسلام کښي دچاهم هرکال دپیدائش یاوفات ورځ مناوهلو دسر نه هم جواز موجود نشته اوصحابه کرام دداسې قسمه سوچ و فکر زبردست مخالف وو. ددې اندازه ددې واقعې نه کیږی کله چه دحضرت عمر دخلافت په دورکښي مسلمانانوته دکیلنډر شروع کولو معامله راپیښه شوه نوهغوی کیلنډر(تاریخ) لره د هجرت د عظیم الشان واقعې نه شروع کړو،په دې دې ته سن هجری وئیلې شی. امام سرخسی د سیرکبیرپه شرح کښي لیکی:

”کله چه حضرت عمربن خطاب دتاریخ تعین په باره کښي صحابه کرامو لره جمع کړل نوبعضو مشوره ورکړه چه د تاریخ ابتداء د پیدائش مبارک نه کیدل پکار دی خو حضرت عمربن خطاب دې رائې لره خوښه نه کړه، ځکه چه په دې کښي دعیسائیانو سره مشابهت کیږی ځکه چه دهغوی تاریخ دحضرت عیسی علیه السلام د پیدائش نه دې.“ [السیر الکبیر ۲۳:۴]

غرض داچه هرکال دپیدائش ورځ او دوفات ورځ مناوهل د هندوانو او عیسائیان طریقه ده. هندوان”جنم اشټمی“او عیسائیان

”کرسمس ډې“ مناوهی،دعیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم تهوار او جشن دهغه قومونو سره مشابهت دې حالانکه دالله تعالی نبی صلی الله علیه وسلم خپل امت ته د اهل کتابو دمخالفت تعلیم فرمائیلې دې او دهغوی دنقل کولو نه ئې په سختئ سره منع فرمائیلې دې:

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ [ابوداود، مسند احمد]

”څوک چه دیوقوم مشابهت اختیارکړی هغه دهغوی نه دې.“

**د باره ربیع الاول چهټی :**

د دنیاکاروباربندول دمسلمانانو دپاره په غرض د غم داظهار دعاشورې په ورځ هم شرعًا په ادله اربعه کښې هم دیو دلیل نه ثابت نه دې.دغه شان ۱۲ربیع الاول باندې دکاروبار بندش لره څنګه صحیح ګرځولې شی. دخلفائې راشدینو او ائمه مجتهدینو او سلف صالحینو په زمانه کښې په دې تاریخ باندې دکاروبار بندول ثابت نه دی اوشرعا په یومړی باندې د دریو ورځو نه زیات دغم اظهار کول جائز نه دی. ماسیوا د کونډې ښځې نه چه دهغې دپاره صرف څلورمیاشتې او لس ورځې مقرردی چه په دې ورځو کښې دې ډول وسنګار نه کوی. خو ددنیاوی ضروری کارپریخودلو حکم شرعی دهغې دپاره هم نشته.نو د نبی علیه السلام د وفات ۱۲تاریخ په ورځ که په دې زمانه کښې دنیاوی روزګار او کاروبار بندول جاری کړې شی نو څوکاله پس عوام الناس به دې لره حکم شرعی او ضروری اوګرځوی ددې په وجه سره به ګناهګار شی اوداسې کار چه دمعصیت ذریعه وی نوهغه به هم ناجائزاوګناه وی. [اجابه وکتبه المرسلین نائب مفتی مدرسه امینیه دهلی]

جواب صحیح دې،بیشکه په دې ورځ کاروباربندول څه شرعی

حکم نه دې، دې لره شرعی حیثیت ورکولو سره چهتی کول یو ایجاد او احداث فی الدین دې.[محمد کفایت اللہ لہ، صدر جمعیۃ علماء ہند دہلی]

دغم داظهار په غرض کاروبار بندول یو دنیاوی رسم دې شرعًاد دې ثبوت نشته، او دعظمت د اظهار په واسطې هم کاروبار بندولو شرع کښې بالکل ثبوت نشته.

[محمد شفیع عفی عنہ مدرس مدرجہ عبدالرب دہلی،از عید میلاد النبی اور اس کی شرعی حیثیت علامہ نیلوی]

## عیدمیلاد او حکومتی سرپرستی:

دافسوس خبره ده چه دمذهب،دین او میلادالنبی صلی اللہ علیہ وسلم په نوم باندې چه کوم خرافات او بدعات وی دهغې سرپرستی زمونږ حکومت کوی اوپه حکومتی سطح باندې عیدمیلادالنبیؐ په ډیر اهتمام سره مناوهلې شی. ذرائع ابلاغ ریډیو،ټیلی ویژن وغیره نه ددې میلاد ډیرزیات نشرواشاعت کولې شی.ددې نه علاوه په دې ورځ باندې عامه چهتی وی،سکول،کالج وغیره بندوی او دمحکمه تعلیم ذمه دار افراد د سکول استاذانو او طلباؤ لره مجبوروی چه هغوی دمیلاد النبیؐ په جلوسونو کښې شریک شی. دمحکمه تعلیم دطرف نه دا حکم سراسر ناانصافی ده. دمیلاد د دې جلوس ثبوت نه دقرآن وحدیث نه ثابت دې نه د صحابه کرامو دعمل نه او نه دتابعینو داقوالو نه،نه د آئمه کرامو دافعالو نه،نه دبزرگانو دفرمان نه. په دې وجه په پاکستان کښې اوسیدونکی په کروړونو صحیح العقیده او سنجیده مسلمانان دمیلادالنبی صلی اللہ علیہ وسلم دجلوسونو او اختر قائل نه دی. بیاهغوی لره په سرکاری سطح باندې ولې مجبوره کولې شی.؟

## نبی ﷺ د پیدائش او وفات تاریخ:

داخبره هم قابله د ذکر ده چه دولسم ربیع الاول لره د نبی صلی الله علیه وسلم پیدائش ګرځولې شی،حالانکه دا خبره ښچپله د محل دنظر ده. په دې تاریخ باندې د نبی علیه السلام پیدائش قطعًا ثابت نه دې، په دې خبره کښې اختلاف دې. چه نبی علیه السلام په کومه میاشت کښې پیداشوې دې.

د زرقانی په جلد۱ص ۱۲کښې لیکلې دی چه بعضې وائی چه نبی علیه السلام په ربیع الاخرکښې پیداشو، بعضې صفرکښې،بعضې په رجب کښې،بعضې په رمضان المبارک کښې دنبی صلی الله علیه وسلم پیدائش ښائی خو مشهور اومحقق مسلک دادې چه دنبی علیه السلام د پیدائش میاشت د ربیع الاول ده. بیاپه دې کښې اختلاف دې چه هغه کوم تاریخ وو. بعضې ۲،بعضې ۸،بعضې ۹،بعضې ۱۷ ربیع الاول ښائی.اخر قول د شیعه ګانو په نزد مشهور دې خو غلط دې ځکه چه په ۱۷ باندې د پیر(ګل) ورځ نه راځی.

مشهوره داده چه دنبی صلی الله علیه وسلم پیدائش مبارک په ۱۲ ربیع الاول باندې اوشو خو محقق مؤرخین ۸یا۹ ربیع الاول ګرځولې دې، علامه شبلی نعمانی لیکلی دی:د پیدائش دتاریخ متعلق د مصر مشهورعالم فلکیات محمودپاشافلکی یورساله لیکلې ده په کوم کښې چه هغوی دلائلو لره د ریاضۍ نه ثابت کړی ده چه دنبی صلی الله علیه وسلم پیدائش په ۹ربیع الاول د دوشنبې(ګل) په ورځ۲۰ اپریل ۵۷۱

عیسوی کښې اوشو. قاضی سلمان منصورپوری د رحمة للعالمین جلدا ص ۲۰ کښې د نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم دپیدائش تاریخ ۹ ربیع الاول ګرځولې دې. مولاناادریس کاندهلوی په سیرت المصطفی جلد ا ص ۵۱ کښې دجمهورمحدثینواو مؤرخینو دممتازقول مطابق ۸ ربیع الاول دپیدائش تاریخ ګرځولې دې. په اصل کښې په ۹ او۱۰ ربیع الاول کښې دومره فرق نشته ځکه چه دشمسی قمری په حساب کښې دیوې ورځې فرق راتلل څه لرې نه دی.دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم د پیدائش په ورځ کښې دومره اختلاف هم ددې خبرې دلیل دې چه دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم د پیدائش ورځ ددین څه حصه او ضروری نه ده که میلاد مناوهل شرعی امر او ضروری وو نو صحابه کرامو ته به ددې دتلاش اولټون ضرورت راپیښېدو اوهغوی به ضرور دې تاریخ او ورځ لره متعین کولو.بهرحال مشهور قول دا مؤرخینو دقول مطابق دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم د پیدائش تاریخ ۹ ربیع الاول دې او۱۲ ربیع الاول دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم د وفات ورځ ده.او ددې مشهور قول مطابق د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم سره دمحبت دعوی او دهغې په نتیجه کښې دپیدائش ورځ مناوهل دقیاس نه لرې نه ده او داهم عجیبه خبره ده چه دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم د وفات په متفقه تاریخ باندې خوشحالی او جشن اونمانځلې شی.په معاشره کښې که په یوخاندان کښې د واده ښادئ په ورځو کښې مړې اوشی نو ټول تقریبات منسوخ کولې شی،هرکله چه دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم سره ددې نه خلاف معامله ناانصافی او دایمان دتقاضې منافی ده.

## تحقیق :

دنبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم دپیدائش تاریخ او د وفات په باره کښي زما شیخ،شیخ الحدیث والتفسیرعلامه مفتی محمدحسن شاه نیلوی مدظله ډیرعجیبه او تفصیلی وتحقیقی بحث کړې دې چه لاندې لیکلې شی:

دحضرت نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم دپیدائش تاریخ او دوفات تاریخ په دې دوؤ کښي اللّٰه تعالی پخپل خاص حکمت سره مبهم ساتلی دی، دې دپاره چه په دې ورځوکښي دمخکښینی قومونو په شان دبدعاتو ارتکاب اونکړی.

## دپیدائش تاریخ :

په دې سلسله کښي صرف تاریخ نه بلکه په دې خبره کښي هم اختلاف دې چه نبی صلی اللّٰه علیه وسلم په کومه میاشت کښي پیداشو. دارنګه دبعضې علماؤ وینااده چه نبی صلی اللّٰه علیه وسلم دربیع الاول په میاشت کښي پیداشو،بعضې دصفرپه میاشت،بعضې درجب په میاشت اوبعضې درمضان المبارک په میاشت کښي دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم پیدائش ښائی او حضرت شیخ عبدالقادرجیلانی خو۱۰ محرم الحرام دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم دپیدائش ورځ ګرځولې ده.نو(غنیة الطالبین جلد ۲ ص ۳۷،طبع مصر،مترجم از شمس بریلوی ناشرمدینه پبلیشنګ کراچی:۴۲۹) کښي فصل بیان کړې دې: **واختلف العلماء فی تسمیته بیوم عاشوراء**،چه دلسم محرم الحرام نوم ''عاشورا'' ولې شو

نوپه دې کښي دعلمائې کرام نظريات مختلف دی،بیاحضرت شیخ جیلانی دعلمائې کرامو مختلف نظریات بیانولو سره په لسم نمبرباندې لیکی: العاشر ولدنبينا محمد صلى الله عليه وسلم فيه۔ چه لسمه خبره داده چه په لسم محرم الحرام باندې زمونږ نبی صلی اللّٰه علیه وسلم پیداشو.هرچه دا قول شاذ دې او دعلمائې کرامو په دې باندې اتفاق دې چه دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم پیدائش هم په ربیع الاول کښي شوې دې خو ددې باوجود هم حضرت شیخ جیلانی لسم محرم الحرام لره دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم د پیدائش قائل علماؤ داقول نقل کولو نه پس ددې تردیدنه دې کړې، دکوم نه چه معلومیږی چه پیران پیر شیخ عبدالقادرجیلانی بخپله هم دهغه ګنړ علماء کرامو په صف کښي شامل دې چه لسم محرم الحرام لره دنبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم دپیدائش ورځ مقرروی. واللّٰه تعالی اعلم.

## دنبی کریم ﷺ وفات کله اوشو؟

دنبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم وفات هم په ربیع الاول کښي شوې وو خو دصحیح تاریخ علم سیوا د اللّٰه تعالی نه بل هیچاته نشته البته مشهور دا دې چه دولسم ربیع الاول یوولسمه هجرئ باندې نبی صلی اللّٰه علیه وسلم ددې فانی دنیانه عالم برزخ ته انتقال اوفرمائیلو. دارنګه د احادیثو په رڼړا کښي دا خبره دعلماؤ په نزدمتفق علیه ده چه دنبی صلی اللّٰه علیه وسلم پیدائش او وفات دربیع الاول په میاشت دپیرپه ورځ شوې دی. اوس که دربیع الاول هغه پیر(ګل) تلاش کول

وی په کوم کښې دحضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم انتقال اوشو نودهغې دپاره به دداسې مشهورواقعې انتخاب کول وی دکوم ورځې چه ټول صحابه کرام اومحدثین متفق علیه طورباندې قائل وی دې دپاره چه ددې مشهورې ورځې حساب لګولوسره چه د ربیع الاول ددې پیرتاریخ متعین کړې شی په کوم کښې چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم انتقال شوې وو.

## یوم عرفه ۱۰ھ نه ۱۲ ربیع الاول ۱۱ھ پورې دتواریخ تقابل:

په احادیثوکښې راځی چه دحجة الوداع په موقع باندې په ۹ذی الحجه۱۰ھ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دعرفات په میدان کښې وقوف فرمائیلې وو اوهغه دجمعې مبارکه ورځ وه، او دا متفق علیه خبره ده نودهغه ورځ نه حساب لګول پکاردی چه دربیع الاول ددې پیرپه ورځ باندې څه تاریخ وو په کوم کښې چه دا عظیمه حادثه اوشوه.

اوس که دا اوئیلې شی چه ذی الحجه د ۲۹ ورځو وه نو دا دجمعرات ورځ جوړیږی او په یکم محرم یوولسمه هجرئ د جمعة المبارک ورځ پکار ده بیاپه اتم باندې جمعه او بیاپه پنځلسم،بیاپه دویشتم،اوبیا په یوکم دیرشم جمعه کیدل پکار دی، بیاکه محرم هم د یوکم دیرشو وی نوپه یکم ربیع الاول به اتوار وی،هرکله چه په ۸، ۱۵، ۲۲ او ۲۹ به هم اتوار وی اوپه دې حساب سره په دولسم ربیع الاول د جمعرات ورځ جوړیږی.

- اوکه اوئیلې شی چه د لسمې هجرئ ذی الحجه د دیرشو ورځو وه نوپه هغه ورځ به جمعه وی،اوپه یکم محرم ۱۱ھ باندې دهفتې ورځ کیدل پکاردی.بیاپه ۸، ۱۵، ۲۲ به د هفتې ورځ وی. بیاکه محرم هم ددیرشو ورځو وی نودا ورځ به داتوار وی او یکم صفر به دپیر په ورځ وی. بیاپه ۸، ۱۵، ۲۲ او ۲۰ به هم پیر وی بیاکه صفرهم ددیرشو ورځو وی نو دا ورځ دمنګل(نهې) اویکم ربیع الاول به د چارشنبې په ورځ وی،بیا ۸، ۱۵، ۲۲ او ۲۹ به د چارشنبې ورځ وی اوپه دې حساب سره به ۱۲ ربیع الاول د اتوار په ورځ وی.
- او که اووئیلې شی چه ذی الحجه خو د ۲۹ ورځو وه او محرم او صفر د۳۰،۳۰،ورځو وې نودغسې به یکم صفرداتوار په ورځ او۳۰ صفربه د پیرپه ورځ جوړیږی،دغه شان یکم ربیع الاول دمنګل په ورځو شو،په دې حساب سره به په۱۲ ربیع الاول باندې هفته کیدل پکاردی.
- او که کچرې اوئیلې شی چه ذی الحجه د۳۰ ورځو،محرم د۲۹ ورځو او بیاصفرد۳۰ ورځو وی نودغه شان به یکم محرم د هفتې او یکم صفر د اتواریکم ربیع الاول دمنګل په ورځ راځی، او ۱۲ ربیع الاول دهفتې په ورځ کیدل پکاردی.
- اوکه اووئیلې شی چه ذی الحجه او محرم خو د۳۰،۳۰ ورځو وی خو صفرد۲۹ ورځو وی نودغه شان به یکم محرم دهفتې اویکم سفر دپیرپه ورځ جوړیږی،هرکله چه یکم ربیع الاول دمنګل په ورځ او

۱۲ د هفتې په ورځ جوړيږی.

- او که اوونیلې شی چه ذی الحجه او محرم د۲۹، ۲۹ ورځو وی اوصفرد۳۰ ورځو نو دغه شان به یکم محرم دجمعې او یکم صفرد هفتې او یکم ربیع الاول دپیرپه ورځ جوړيږی دغه شان به ۱۲ ربیع الاول دجمعه مبارکې په ورځ وی.
- اوکه چرې اوونیلې شی چه ذی الحجه د۲۰،محرم د۳۰، او صفر بیاد۲۹وی نو دغه شان به یکم محرم دجمعې یکم صفر داتوار اویکم ربیع الاول دپیرپه ورځ جوړيږی اوپه دې حساب سره به هم ۱۲ ربیع الاول دجمعې په ورځ جوړيږی.
- اوکچرې اوونیلې شی چه ذی الحجه د ۳۰ اومحرم اوصفر۲۹، ۲۹ ورځو وی. نودغه شان یکم محرم دهفتې په ورځ،یکم صفر داتوار اویکم ربیع الاول دپیر په ورځ جوړيږی او په ۱۲ ربیع الاول باندې جمعه راځی.

- او ددې خلاصه د نقشې په صورت کښې هم اوګورئ.

| نمبر | ذی الحجه | | محرم الحرام | | صفر المظفر | | ربیع الاول | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۹جمعه | ۲۹جمعرات | یکم جمعه | ۲۹جمعه | یکم هفته | ۲۹هفته | یکم اتوار | ۱۲ جمعرات |
| ۲ | ۹جمعه | ۳۰جمعه | یکم هفته | ۳۰اتورا | یکم پیر | ۳۰منګل | یکم بدھ | ۱۲اتوار |
| ۳ | ۹جمعه | ۲۹جمعرات | یکم جمعه | ۳۰هفته | یکم اتوار | ۳۰پیر | یکم منګل | ۱۲هفته |
| ٤ | ۹جمعه | ۳۰جمعه | یکم هفته | ۲۹هفته | یکم اتوار | ۳۰پیر | یکم منګل | ۱۲هفته |
| ۵ | ۹جمعه | ۳۰جمعه | یکم جمعه | ۳۰اتوار | یکم پیر | ۳۰پیر | یکم منګل | ۱۲هفته |
| ٦ | ۹جمعه | ۲۹جمعرات | یکم هفته | ۲۹جمعه | یکم هفته | ۳۰اتوار | یکم پیر | ۱۲جمعه |
| ۷ | ۹جمعه | ۲۹جمعرات | یکم جمعه | ۳۰هفته | یکم اتوار | ۳۰اتوار | یکم پیر | ۱۲جمعه |
| ۸ | ۹جمعه | ۳۰جمعه | یکم هفته | ۲۹هفته | یکم اتوار | ۳۰اتوار | یکم پیر | ۱۲جمعه |

مونږ.دممکنه ټولو صورتونو حساب لګولو سره اوکتل خو په یوصورت کښې هم په ۱۲ ربیع الاول باندې دپیر ورځ نه راځی،البته دویم په صفرکښي،یعنی که ذی الحجه،محرم او صفر درې واړه میاشتې د دیرش دیرش ورځو اومنلې شی نوبیابه هم ۱۲ربیع الاول د اتوارپه ورځ راځی،خو چونکه داحادیثو په رو سره ربیع الاول او دپیر ورځ مقرر ده،او مشهور تاریخ دوفات ۱۲ ربیع الاول دې نو دې ټولو څیزونو لره مخې ته ایخودو سره وئیلې شی چه پیر۱۳ربیع الاول باندې نبی صلی الله علیه وسلم ددې فانی دنیانه انتقال اوفرمائیلو اوپه عواموکښې

دباره (دولس) هندسه په دې وجه مشهوره شوه چه دربيع الاول ۱۲ ورځ پوره کيدو نه پس دا عظيمه سانحه راپيښه شوه څنګه چه څوک صاحب که دمياشتې په دويم تاريخ باندې وفات شو نو وائی چه هغه دفلانې مياشت يوه ورځ اوليده خو په دې صورت کښې ۱۲ ربيع الاول باندې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دوفات ورځ لره نه شی ګرځولې.

زمونږ د پاسنی تحريرنه داخبره معلومه شوه چه۱۲ ربيع الاول خونه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د پيدائش ورځ ده اونه دوفات ورځ،البته دپيرپه ورځ کښې دټولو اتفاق دې.

باقی پاتې شوه داخبره چه دنبی کريم صلی الله عليه وسلم دپيدائش ورځ ته اختر وئيل،په هغه ورځ داخترپه شان خوشحالی کول اومختلف خوراکونه پخول په دغه ورځ په کثرت سره عبادت کول وغيره نوکله چه ددې دپاره څه تاريخ نه شی مقرريدې نوددې کارونو حيثيت څه پاتې کيږی،دارنګه د الله تعالی په حکم سره نبی کريم صلی الله عليه وسلم مونږته د دوؤ اخترونو حکم راکړې دې دريم اخترمناوهل دالله تعالی دحکم نه تجاوز کول به وی،چه د انتهائی درجې ناخوښه کار دې درانګه ددې قطعًاثبوت نه ملاويږی. [گلستان اسلام ربیع الاول ۱۴۱۷ھ]

## د ربيع الاول په ورځ خوراک وغيره تيارول:

ايصال ثواب فی نفسه جائزکار دې دکوم ثواب چه مړی ته رسی خو د ربيع الاول د۱۲تاريخ تخصيص يا په دې مياشت کښې دنبی کريم صلی الله عليه وسلم ته روح مبارک ته د ايصال ثواب په خاطر اوريژې،

دیګونه،خوراکونه وغیره پخول، کهیر، کهچړی،فرنی تیارول په څو وجهو سره باطل دی.

یوخو په عام طور باندې دنبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم په نوم نذرونیاز په نیت سره پیش کوی او دیته بارهویں(دولسم) شریف وائی. هرکله چه د غیراللّٰه نذرونیاز حرام بلکه شرک دې. په قرآن پاک کښې ارشاد دې:

اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَا أُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ [البقرة: ۱۷۳]

"بیشک په تاسوباندې مرداره،وینه، د خنزیرغوښه او کوم چه دالله نه سیوا دبل چاپه نوم(نذرونیاز) اومنلې شی هغه حرام دې."

په دې دغیر اللّٰه په نذرباندې رد کولو باره کښې ابن نجیم ابوحنیفه ثانی فرمائی چه :

اَلنَّذَرُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لِغَيْرِ اللّٰهِ كُفْرٌ [بحرالرائق]

"نذرعبادت دې اوعبادت دالله نه سیوا بل چاد‌پاره کول کفر دې."

دویمه داچه که څوک اووائی چه مونږ دنبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم نذرنه ورکوو بلکه دالله تعالی په نوم سره دا خوراکونه وغیره تیاروو دنبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم ته د ایصال ثواب په نیت سره ئې ورکوو نو دا هم په دې وجه سره صحیح نه دی بلکه ناجائزدی چه د ایصال ثواب دپاره په دې میاشت کښې اوبیا۱۲ تاریخ لره خاص کول دشریعت نه خلاف دی. ځکه چه په حدیث شریف کښې راځی:

عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قَالَ لَا تَخُصُّوْا لَیْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِیَامٍ مِنْ بَیْنِ اللَّیَالِیْ وَلَا تَخُصُّوْا یَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِیَامٍ مِنْ بَیْنِ الْاَیَّامِ۔ [مسلم]

د ابوهریره نه روایت دې چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه په شپو کښې د جمعې په شپه قیام(عبادت) مه مخصوص کوئ، اومه په نورو ورځو کښي دجمعې ورځ د روژې دپاره مخصوص کوئ.

ددې حدیث نه ثابته شوه چه دعبادت دپاره دخپل طرف نه دوختونو او ورځو تخصیص(خاص کول) منع دی.

دغه شان مولانا سرفرازخان صفدرصاحب په راه سنت کښي هم وئیلې دی:

"دمړی دپاره دعا او استغفار کول اوصدقه او خیرات کول او بغیر د اجرت نه قرآن کریم ایصال ثواب کول، دغه شان دنفلي مونځونو روژو او حج وغیره سره مړی ته ثواب رسول جائز او صحیح دی خو د ایصال ثواب دپاره شریعت حقه د ورځو اوتاریخونو څه تعین نه دې کړې اومخکښي په حواله سره تیر شوې دی چه دخپل طرف نه داسې تعین کول بدعت دې. په دلائل اربعه کښي په دې باندې هیڅ دلائل نشته دې چه دایصال ثواب دپاره د ورځو تعین ضروری دې."

[راه سنت:۲٦۰]

لهذا دایصال ثواب دپاره د ربیع الاول تعین اوتخصیص هم ناجائزدې.

حضرت مولانامفتی رشیداحمدګنګوهی رحمة الله علیه په فتاوی رشیدیه کښي لیکی:

”د صدقاتو تقسیم تخصیص په دې ورځوکښي کول چه دا ګڼړی چه هم نن ثواب زیات دې،نوبدعت ضلاله(ګمراه کن بدعت) دې په وجه تخصیص دځه طعام په خاص ورځ کول لغوه دی.“

[فتاویٰ رشیدیہ:۱۳۸]

اوبل ځاې فرمائی:

”ثواب مړی ته رسول او بغیر د څه قیدنه د تاریخ(دمقرره وخت نه بغیر) که وی نوعین ثواب دې اوکله چه تخصیصات او التزامات مروجه وی نو صحیح نه دی اوباعث د مواخذې به وی.“

[فتاویٰ رشیدیہ:۱۶۰]

بس ایصال ثواب هر وخت کیدې شی دا ربیع الاول او بیا د دولسم تاریخ تخصیص بدعت اولغوه دې.

## عید میلاد النبی ﷺ او علماۓ دیوبند:

مروجه عیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم لره زمونږ علمائے رحمهم الله بدعت او ناجائز ګرځولې دې دارنګه د دارلعلوم دیوبند اولنی مفتی شیخ المشائخ مفتی رشیداحمدګنګوهی وائی :

”دا محفل چونکه دفخرعالم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په زمانه کښي اودصحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین په زمانه او دتابعین اوتبع تابعین او مجتهدینو رحمهم الله علیهم په زمانه نه دې

شوې ددې ایجاد شپږسوه کاله پس یو باچاکړې دې اوې دې لره اکثرو اهل علمو لیکلې دې او اوس هم ډیر رسائل او فتاوې چهاپ شوې دی د زیات دلیل حاجت نشته دعدم جواز دپاره دا دلیل بس دې چه په خیرالقرون کښې دا نه دې شوې که د دې زیات مفاسد ګورئ نو اوردې فتاوې اوګورئ فقط والله تعالی اعلم.'' رشید احمد گنگوهی عفی عنه الجواب صحیح خلیل احمد عفی عنه [فتاوی رشیدیه:۲۵۵]

اومخکښې دیوسوال په جواب کښې لیکی:

**سوال:** مروجه مجلسونه دمیلاد بدعت دې یانه؟

**جواب:** مروجه مجلس مولودبدعت دې اوپه سبب د خلط دمکروه امورو مکروهِ تحریمی اوقیام هم په وجه دخصوصیت بدعت دې اودبې ګیرې هلکانو په سرور کښې لوستل (دنعتونو وغیره)دفتنې دیرې په وجه سره مکروه دی او فاتحه مروجه هم بدعت دې دهنود سره دمشابهت په وجه سره، او دغیرقوم سره تشبیه منع ده. ایصال ثواب ددې هیئت نه بغیرصحیح دې اوپه کوم میلمستیاکښې غیرشرعی امور وی هلته تلل هم ناجائز دی اودچامال چه حرام دې خواه که فاحشه وی یا مرد مسلم، دهغه په لاس بیع کول ددې حرام مال په عوض کښې حرام دې چه ټولو لره حراموی او که په ښه مال سره ئې واخلې صحیح ده. فقط ـ[فتاوی رشیدیه:۲۵۶]

دغه شان مفتی اعظم هندشیخ الشیخ مفتی محمدکفایت الله دهلوی فرمائی :

”مروجه دمیلاد مجلسونه منعقدکول بې اصل دی. که د وعظ دپاره مجلس منعقدکړې شی او د وعظ په دوران کښې دنبی صلی الله علیه وسلم حالات فضائل بیان کړې شی اوپه دې کښې دحضور ﷺ د پیدائش مبارک صحیح واقعات هم بیان کړی دومره قدرې جائز او صحیح دی. داسې قسمه دینی اومبارک مجلس لره ددنیاوی اونمائشی ډول سنګار نه صفا ساتل بهتردی.“ محمدکفایت الله کا ن الله له دهلی.

[کفایت المفتی:۱ :۱۴]

**سوال**: د میلاد شریف بنیاد دکوځاې نه ؟ اوکله شروع شو؟ او ولې شروع شو.؟

**جواب**: میلادشریف دحضورصلی الله علیه وسلم د مبارکې زمانې نه په سوؤنو کلونو پس ایجاد شوې دې. د حضورصلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه اودصحابه کرامو او دتابعینو او ائمه مجتهدینو رحمهم الله په مبارکو زمانو کښې ددې وجود نه وو. په دې کښې شک نشته چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم حالات وواقعات او فضائل اومعجزات بیانول دمسلمانانو دپاره بصیرت افروز او د دواړو جهانونو سعادت دې خو اول ددې دپاره ضروری ده چه واقعات او روایاتو لره صحیح بیان کړې شی. غلط اوموضوع قصې بیان نه کړې شی. دویم داچه مجلس په خاص اهتمام سره او دمیلاد په نوم منعقدکولو څه ثبوت نه وی. په دې وجه بهتر دی چه د وعظ دمجلسونو نه کارواخستلې شی. دریم داچه منکرات شرعیه مثلاً اسراف،تفاخر،ریا نه ځان اوساتلې

شی.څلورم څه خاص وخت،تاریخ لره ددې دپاره شرعًامخصوص یامفید د زیات ثواب اونه ګڼړلې شی. نونفس ذکر اوصاف او فضائل دنبی کریم صلی اللّٰہ علیه وسلم افضل د مستحباتو نه دی. واللّٰہ اعلم محمدکفایت اللّٰہ غفرله. [کفایت المفتی ۱:۱۴۴]

**سوال** : عیدمیلادالنبیؐ په موجوده وخت کښې مذهبی حیثیت لری یانه؟.

**جواب**: د عیدمیلادالنبیؐ په نوم څه جلسه کول صحیح نه دی. ها دسیرت مقدسه د تبلیغ او بیان دپاره جلسه کولوکښې څه باک نشته او د دې دپاره د څه خاص تاریخ تخصیص نشته او د فضولیاتو اوبدعاتو نه ځان ساتل لازم دی.محمد کفایت اللّٰہ غفرله دهلی-[کفایت المفتی ۱؛ ۱۴۴]

اوحکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی په خپل کتاب د مولود شریف د محفل یعنی په عیدمیلاد باندې تفصیلی بحث کولو سره یوځاې لیکی:

"هغه محفل په کوم کښې چه غیرشرعی قیودات موجود وی،چه په خپل ذات کښې هم قبیح اومعصیت دې مثلاً موضوعی روایات خلاف واقعه بیان کړې شی یانبائسته آواز والا هلکان په کښې غزلې اووائی یارشوت یاسود وغیره حرام په دې کښې خرچ کړې شی یا د ضرورت نه زیات په دې کښې رنړاګانې قالینونه او دمکان ډول وسنګاروغیره تکلف اوکړې شی،یا د خلقو جمع کولو اهتمام په ډیره مبالغه سره اوکړې شی چه داسې قسمه اهتمام دمونځ او جماعت او وعظ دپاره هم نه وی په نثر او نظم کښې دحق تعالی شانه یادحضرات

انبیاء علیهم السلام توهین او ګستاخی صراحةً یا اشارةً اوکړې شی په دې مجمع کښې په تلو سره مونځ یاجماعت فوت شی،یاوخت تنګ شی یاد دې قوی احتمال وی،یا د مجلس دبانی نیت دشهرت اوتفاخروی، یا رسول مقبول صلی الله علیه وسلم لره هلته حاضروناظرګنړلې شی یاڅه بل قسم امر د شرع خلاف په هغې کښې موندلې شی. داهغه صورت دې چه اکثر عوام وجاهلانو کښې شائع و ذائع دې اوشرعًا بالکل ناجائز و ګناه ده." [اصلاح الرسوم:۱۰۹]

دغه شان مفتی اعظم دارالعلوم دیوبندمفتی عزیزالرحمن عثمانی دیوبندی او مفتی اعظمِ پاکستان مفتی محمدشفیع دیوبندی په فتاوی دارالعلوم دیوبندکښې دمیلاد په باره کښې لیکی:

"د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ذکرمبارک اودهغوی پاکیزه حالات لوستل او اورول خو دمسلمانانو دپاره په ټولو کارونوکښې دخیرات او برکاتو مدار دې بلکه واجب اوضروری دی،خو دمحفل میلاد چه په موجوده زمانه کښې کوم رسم شروع شوې دې په دې کښې څه څه قسمه بدعات او ناجائزکارونه شامل شوې دی، په دې وجه جمهورعلماء د امت دې لره ناجائز ګرځولې دې اودغسې په دې محفل کښې پیدائش مبارک په ذکر سره اودریدل هم بالکل منګهړت حکم دې. په شریعت اسلامیه کښې چرته هم ددې نوم ونشان نشته دحضورصلی الله علیه وسلم د پیدائش ذکر کوی یامطلق ذکر کولو په وخت اودریدل دارنګه دصحابه کرامو په زرګونو ډلو کښې د یو نه هم ثابت نه دې چه دپیدائش مبارک دذکرکولو په وخت تعظیمًا ولاړ وی او ښکاره ده چه که واقعی داقیام څه تعظیمی څیز وې نوصحابه کرامو

به هیڅ کله نه وو پریښودلې. ځکه چه ددوی نه زیات هیڅوک هم دنبی کریم صلی الله علیه وسلم تعظیم نه شی کولې."
[فتاویٰ دار العلوم دیوبند، امداد المفتین: ۲:۱۷۲، ۱۷۳]

**سوال:** د یوم النبی ډیرځایونو کښي ډیرچرچا ده دلته هم ددې ډیر اهتمام دې په دې کښي شرکت کول او چنده ورکول شرعًا جائزدی یا نه؟ بینوا توجروا.

**جواب:** دیوم النبی صلی الله علیه وسلم جلسې چه دکومو تقییداتو اوتعیناتو ماتحت کیږی دابالکل هغه محفل میلاد دې چه په نوې لباس کښي پیش کړې شوې دی زما په نزد خو په پخوانی طرز عیدمیلاد یامطلق محفل میلاد کښي اوپه دې جلسوکښي څه فرق نشته څنګه چه هغه بدعت دې بیشکه داهم بدعت دې.د رسول الله صلی الله علیه وسلم آیا صرف دا حق په امت باندې دې چه پوره کال کښي صرف یوه ورځ او هغه هم محض دتماشې په طور د هغوی ذکر مبارک د دروغ ریشتیو رسالو نه اولوستلې شی او بیا پوره کال فارغیدو سره د راتلو باره وفات پورې منتظر کیناستل.

افسوس! دمسلمانانو فرض خو دادی چه هیڅ یوه ورځ دهغوی د ذکرمبارک نه خالی لاړه نه شی دا ضروری نه ده چه هم صرف ذکر دپیدائش وی کله دهغوی دمونځ کله دهغوی د روژې کله دهغوی د اخلاق واعمالو چه دټولو نه زیات اهم دی کله دې ذکر د پیدائش مبارک هم اوشی نو دبرکت ذریعه ده، والله اعلم.

## دڅو نورو سوالانو جوابونه

دا جلسې د موجوده جهالت بالکل بدعت او په ډیرو منکراتو شرعیو باندې مشتمل دی او دآئنده دپاره چه کوم خطرات په سوال کښي ظاهر کړې شوې دی قریب الوقوع معلومیږی. باقی پاتې شو دا سوال چه په دې جلسوکښي څه منافع تبلیغ او احوالِ سیرت وغیره موجود دې. بس دا منافع ضرور موجود دی بلکه شایدچه په دې دنیاکښي څوک دبد نه بدترفعل هم راونه څی دکوم نه چه نفع حاصله نه وی خو شریعت دداسې منافع په حق کښي هم دافیصله صادرکوی چه اِثْمُهُمَا اَكْبَرُمِنْ نَفْعِهِمَا یعنی دهغې ګناه د هغې فائدې نه زیاته ده په دې وجه دسر نه په دې جلسوکښي شرکت واهتمام او التزام بدعت دې دکوم پریخودل چه ضروری دی اویاد ساتئ چه امت محمدیه علی صاحبه الصلوة والسلا اصلاح کچرې کیدې شی نوصرف په دې طریقه باندې چه کومه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دامت په لاس کښي ورکړې ده دنوې نوې شریعتونو او نوې نوې طریقو په ځای داصلاح همیشه دفساد ذریعه جوړیږی.امام مالک ﷫ فرمائیلي دی : یعنی چه کوم څیز دنبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښي نه وو هغه نن هم دین نه شی کیدې.والله اعلم.[امدادالمفتین:۲:۱۷۴: ۱۷۵]

اوفقیه العصرمفتی رشیداحمدلدهیانوی رحمه الله د مروجه میلاد دتحقیق کولو سره د یو سوال په جواب کښي لیکی: ”بس که چرې د پیدائش مبارک،یامعجزاتویاغزواتو وغیره ذکر په طور د وعظ او درس بغیردڅه پابندئ د رسم نه اوکړې نو دزرګونو برکتونو ذریعه به وی خو په دې زمانه کښي په محفل میلادکښیې لاندینی موجود(کارونه) باعث

دعدم جواز دی".

**الف۔** د حضور نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم متعلق داعقیده وی چه هغوی په خپله محفل میلاد ته تشریف راوړی او دا صریح کفر دي چه دهغې حرمت دقرآن کریم په نصوصِ صریحه او د فقهې په عبارات سره ثابت دې.

**من قال ان ارواح المشایخ حاضرة تعلم یکفر(بزازیة)ذکر الحنفیة تصریحا بالتکفیر باعتقاد ان النبی صلی اللہ علیه وسلم یعلم الغیب لمعارضته قوله تعالیٰ قل لا یعلم من فی السموات والارض الغیب الا اللہ۔** [شرح فقه اکبر]

دامسئله د فقهې په کتابونو کښي ذکرده چه کچرې چا د نکاح کولو په وخت اووئیل چه زما ګواه اللہ او دهغه رسولؐ دي نو غرض داچه د داسې عقیده ساتونکی د تکفیر نه قرآن، احادیث او د فقهې کتابونه ډک دی.

**ب۔** د میلاد په محفل کښي شرینی وغیره تقسیمولو لره ضروری ګڼړلې شی او پخپله محفل میلاد ته هم دواجب درجه ورکولې شی هرکله چه یو جائزکارلره خلق ضروری اوګڼړی نو دا کار مکروه کیږی **کل مباح یودی الی(الی الوجوب)فمکروه۔** [الدرالمختار: ج ا]

**ج۔** په معینه میاشت اومقررتاریخ پیربانديې میلاد کول ضروری خیال کولې شی، حالانکه شریعت څه خاص میاشت یاتاریخ نه دې معین کړې نودخپل طرف نه په شریعت کښي زیاتې کول ناجائز دی. په صحیح مسلم کښي روایت دې **لاتختصولیلة الجمعه بقیام من بین اللیالی ولاتختصوایوم الجمعة بصیام من بین الایام۔**"

[احسن الفتاوی: ۱:۳۴۸]

**سوال:** په مروجه ميلادالنبی صلی الله عليه وسلم کښې قيام کول څنګه دی؟ بينوا توجروا

**جواب:** باسم ملهم الصواب-په محفل ميلادکښې قيام بدعت دې، په حديث کښې ددې صفاممانعت راغلې دې حضورصلی الله عليه وسلم په خپل ژوندکښې صحابه کرام ته اوفرمائيل چه تاسو اودريدو سره زما تعظيم مه کوئ. څنګه چه دعجمو دستور دې چه خپل مينځ کښيې د يو بل دپاره په اودريدو سره تعظيم کوی.محفل ميلادپه څه خاص ورځ باندې کول اوهغې له ضروری ګنړل، شيرينی وغيره تقسيمولو اهتمام کول،قيام کول،دا کارونه شرعًا ناجائز دی. دارنګه دحضورصلی الله عليه وسلم مجلس ته حاضريدو عقيده ساتل شرک دې دې کارونو نه که مجلس پاک وی نوباعث دبرکت او هدايت دې ګنی ضلالت اوګمراهی. فقط والله اعلم [احسن الفتاوی:۱:۳۸۳]

## بريلوی اکابر او مولود:

د بريلوی مکتب فکر اعلی حضرت او بانی احمدرضان بريلوی په خپل کتابونو کښې دمروجه ميلاد او عرس دبدعاتو او خرافاتو په باره کښې چه څه ليکلی دی هغه اوګورئ:

**سوال:** يوځاې کښې عرس دې،خلق جمع دی او قوالی په دې طريقه باندې کيږی چه يو ډهول سارنګی غږيږی. قوال دپيران پير دستګير په شان کښې اشعار وائی او درسول الله صلی الله عليه وسلم نعت او اشعار او د اولياء الله په شان کښې اشعار وائی او ډهول سارنګی غږيږی داسې قوالی جائزه ده يا نه؟

**جواب**: داسې قوالی حرامه ده. حاضرین ټول ګناهګاردی اوټول په ټوله ګناه په داسې عرس کونکو او قوالو باندې ده او دقوالو هم ګناه په عرس کونکوباندې ده بغیر د دې نه چه عرس کونکو قوالو لره راغوښتلې وی په دې وجه دې په قوالو باندې په ګناه کښې څه کمی راشی یا د دې او د قوالو په ذمه دحاضرینو د وبال پریوتو سره دحاضرینو په ګناه کښې څه تخفیف وی، نه! بلکه په حاضرینو کښې په هریو باندې خپله پوره ګناه ځانله او دقوالو برابر جدا او د ټولو حاضریرینو برابر جدا.وجه داده چه حاضرینو لره عرس کونکو راغوښتلې دی.دهغوی دپاره ئې دګناه سامان خورکړو په دې وجه هغه عرس کونکې شو. که هغه نه کول نه ئې راغوښتل نوهغه ولې راتلو او قوالی ئې کوله نو لهذا د قوالو ګناه هم په هغه راغوښتونکی باندې شوه. الخ.

[احکام شریعت:۱: ۴۸،۴۷]

فقیرغفرله المولی القدیرپه خپل فتاوی کښې ثابت کړه چه ددې نفس دخواهشاتو پیروی کونکو حضراتو اکابر فرمائی چه دا زمونږ په مشائخو باندې افتراء ده. دارنګه دهغوی دټولو تمسکاتو یواجمالی جواب موضوع صواب په دې لفظونو کښې ګزارش کړې شو چه بعضې جهال بدمست یانیم هوس پرست یا دورغژن صوفیان چه د صحیح احادیثو په مقابله کښې بعضې ضعیفې قصې یامتشابه کلمې پیش کوی.

هغوی کښې دومره عقل نشته یاقصدًا بې عقل جوړیږی چه د صحیح په مقابل کښې ضعیف، دمتعین مخکښې محمل، دمحکم مخکښې متشابه واجب الترک دی. [مسائل سماع از احمد رضا بریلوی:۸۷]

**مسئله:** سیدی ابوعلی رودباری رحمه الله نه سوال اوکړې شو چه یو سړي مزاامیر(ډهول باجي) اوری او وائی چه دا زما دپاره حلال دی په دې وجه چه زه داسې مقام ته رسیدلې یم چه د احوالو اختلاف په مابانديې اثر نه کوی. وې فرمائیل : ها رسیدلې خو ضرور دی! خو کم ځاې پورې! (بیائې پخپله اوفرمائیل) جنهم پورې. [فتاوی افریقیه ۱۳۷]

افعال مذکوره (بیلمازه،شرابی،ګیره خریلې،یا لویو بریتو والا،بې اودسه،بې ادب ګستاخ نه منګهرت روایتونو سره ځانله یا دوه څلور کسانو سره یوځاې کیدل او مولود شریف لوستل او خلقو ته وئیل وغیره سخت کبائر(لوې ګناهونه) دی او ددې کونکې اشدفاسق وفاجرمستحق دعذاب دارنګه په هغه باندې د رحمن غضب اوپه دنیاکښې مستوجب شو دزرګونو ذلتونو. خوش آوازی یادځه نفسانی علت په وجه داسې مجاور په مسند باندې چه کینی حقیقة مسند حضور پرنور صلی الله علیه وسلم دې. تعظیمًا کینول،او په هغه باندې په مجلس مبارک کښې لوستل کول حرام دی......روایت موضوعه لوستل هم حرام،اوریدل هم حرام.دداسې مجلسونو نه الله عزوجل او حضورپرنورصلی الله علیه وسلم پوره ناراضه دې. داسې مجلسونه او لوستونکی ددې او ددې په حال خبریدونکی هم حاضریدونکی ټول مستحق دغضب الهی دی. داڅومره حاضرین چه دی ټول په وبال کښې جدا جدا ګرفتاردی او ددې ټولو د وبال برابر به په دې لوستونکی باندې وبال وی. اوپخپله دهغه خپله ګناه پخپل ځاې. مثلاً زرکسان حاضردی نو په هغوی زرګناه .اوپه دې کذاب قاری باندې

یوزر اویو گناه او په بانی باندې به دوه زره دوه گناه. یو زر موضوعه، څومره قدرې کلمات چه نامشروعه هغه قاری جاهل جری اولولی په هر روایت،په هره کلمه باندې به داحساب وبال وعذاب تازه وی.

مثلاً فرض کړئ چه داسې سل کلمات مردوده په دې مجلس کښې هغه اولوستل،نوپه دې حاضرینوکښې به په هریو باندې سل گناهونه او په دې قاری چه دعلم دین نه خالی دې په ده باندې به یولاکه او یو سل گناهونه او په بانی باندې به دوه لاکهه دوه سوه گناهونه. وقس علی هذا. رسول الله صلی الله علیه وسلم پاک ومنزه دې ددې نه چه داسې ناپاکه ځاې کښې تشریف فرما وی. البته هلته به د ابلیس اوشیاطین رش وی.د حضورصلی الله علیه وسلم په ذکرکښې شریک په اودس کښې کیدل مستحب دی اوبې اودسه هم جائزدې. الخ

کتبه عبدالمذنب احمد رضا البریلوی عفی عنه

[فتاوی رضویہ باب الحظر والاباحۃ :۶۹۱تا۶۹۳/۴]

[ماخوذاز عید میلادالنبی اوراس کی شرعی حیثیت علامہ نیلوی]

ابومعاویہ مفتی مولانا محمد ایاز

صفر۱۴۲۲ھ بمطابق مئی۲۰۰۱ء